


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



مجيب الرحمن « خطيبي »

د نشر نیټه : 14 اکتوبر 2014 م

# پټه مينه

کله زما پټ پټ کتل مزه کا
کله د ستا کټ کټ خندل مزه کا
لما حيا مکړه محبوبې زما
له دی حيا نه دي رټل مزه کا
کله له نازه دی بانه رپوی
ستا د بانو غيشي ويشتل مزه کا
کله هم ښه يي ما همزولو ته خپل
ما ته د ستا دا نازول مزه کا
چې مې تورتم کې هم رڼا راولی
ستا د سپوږمی مخ ځليدل مزه کا
کله تا خوب کې مروره وينمه
ماته له خوبه پاڅيدل مزه کا
ستا په راتګ اوري باران د مينې
ستا دی باران کې لمديدل مزه کا
محبوبې نوم دی په هر پاڼه ليکم
ماته ستا ښکلی نوم ليکل مزه کا
د مينې ستونزونه زه نه ډاريږم
مينه کې هر شيبه ولويدل مزه کا
***

مجيب الرحمن « خطيبي »
۲۰۱۴/۱۰/۰۹

www.said-afghani.org- بازګشت به صفحه اصلی